# د ش، ښ، خ ږغيز او معنوي توپير

تر هغه ځايه چي موږ ته څرګنده ده، او د پښتو خطي کتابونه مو ليدلي دي، له قديمه په پښتو کي دغه درې ږغه په خپلو خاصو اشکالو ښکاره سوي او لکه ږغونه چي يې بېل بېل دي، دغسي هم شکلونه ور ته ټاکل سوي دي.

په دغو درو ږغونو کي (ش، خ) د عربي او دري سره مشترك دي، نو ځکه اسلافو هغه شکلونه ورته غوره کړي دي چي په عربي يا دري کي يې درلودل. مګر د (ش او خ) تر منځ چي بل ږغ هم و، هغه ته يې د (ښ) شکل ټاکلی دی.

دا کار يوه تاريخچه لري، چي دلته يې بايد رالنډه کړم:

تر عربي سامي خط خپرېدلو دمخه يعني تر (٦٠٠م) کال او د اسلام د راتګ پر وخت دلته په خراسان کي خروشتهي سره، داناګري، يوناني، پهلوي خطونه وو او موږ ته دا معلومه نه ده، چي پښتو به په کوم رسم الخط کښله کېده، ځکه کوم ليکلی اثر يې نه دی پاته.

د هجري څلورم قرن تر اوله پوري چي کوم ډېر ليکونه په پخواني لوی افغانستان کي پاته دي اکثر په يوناني خط او باختري کوشاني ژبه دي، او ځني د سنسکريت ډبرليکونه هم په خروشتهي سره يا داناګري ليك دود دي. نو سړی داسي اټکل کولای سي، چي د پښتو ليك به هم په يوناني يا خروشتهي ليك دود و.

د دې خبري له پاره موږ په تاريخ کي يو سند هم لرو، چي د ميلادي دوهمي سدۍ په منځ کي د کوشاني کهول لوی پاچا کانيشکا د بغلان د سره کوتل په مندر کي يو ډبرليك درولی دی، چي په کوشاني باختري ژبه يې د دغه ماليږ (مهادژ) د بيا جوړولو تاريخ پر لويه پرښه کښلی دی.

په دې ډبرليك کي په يوناني ليك دود، د دغو درو ږغونو له پاره درې بېل بېل شکلونه سته، او داسي ځني ښکاري چي په دغه ژبه کي د پښتو او دري يو (٢٠٠٠) کاله دمخنۍ جوله ده، درې ږغونه وو :

(١) ش = þ لکه نوشال = نوشاد NOSHAL (د معبد نوم)

شا = شاه SHA (پاچا)

شيزوګرګ = ... SHIZOGARG (د سړي نوم)

دا ږغ چي د (ش) په شکل په عربي رسم الخط کي ښکاره کېږي، په اکثرو ژبو کي سته او په پښتو کي هم اوس پخپل عربي شکل موجود دی.

(٢) ښ = px چي (ش + خ) سره ګډ سوي او يو منځنی ږغ ځني جوړ سوی دی لکه د کوشاني ژبي ښال چي اوس يې ښاد وايو، په دري کي (شاد) دی او په ډبرليك کي په ترکيبي ډول الوسال (ارواښاد) راغلی دی، چي د مړي له پاره يوه عامه مرکبه کلمه ده = روان شاد.

دغه ږغ د ډبرليك په يوه بله نسخه کي xsh (خ+ش) هم کښل سوی دی، چي مراد يې هغه د (ش+خ) ګډ ږغ دی اوس موږ هم ښاد = خاد وايو، په اوستا کي هم مشدد (ش) دغه د پښتو اوسنی (ښ) دی. خو په کوشاني ژبه کي اوسنی (دال) د (لام) ږغ درلود، په اوستا کي ښاته = شادو.

(٣) خ = x لکه د کوشاني خشون xshon = شاهي چي په زړه پاړسي کي xsay په اوستا کي xsa په سنسکريت کي ksayati دغه معنی لري (وګورئ (ولډ) پرشن ١٨١ مخ).

نور مثالونه :
خوادی xoade = خدای (فرمانروا)
خرګومن = خرمن xirgoman دری = (صحن، خرګاه)
(وګورئ برهان قاطع ۷۳۹).

****

اوس به نو راسو اوسنۍ پښتو ته :

د پښتو په پسته لهجه کي اوس هم دغه درې سره ږغونه سته خو په ډېره لهجه کي تش دوه ږغه (ش،خ) پاته دي او دغه تحول هم وروستنی ښکاري.

کله چي د پښتنو د پونده وو ډلي د ارغنداو او ارغسان له اورشوو څخه د ننګرهار او اباسين پر لوري راوکوچېدلې.

په پښتو کي تر اوسه هم داسي کلمات پاته دي چي د دغو درو ږغونو اصالت راښيي، او که يې يو له بله سره واړوو، نو معناوي يې هم اوړي، لکه :

| | |
|---|---|
| خوشي کول | رها کردن |
| خوښي کول | خوشی کردن |
| ويشته | از ويشتل = پرتافتن، ضرب بسنګ يا ګلوله |
| ويښته | موی |
| ويش ! | کلمۀ حسرت |
| ويښ | بيدار |
| وېش | تقسيم |
| ويخ | تلفظی از واخ، ادات حسرت و الم |
| لوښی | ظروف |
| لوخي | جمع مؤنث مفرد لوخه |
| لوشي | ګل و لای |
| ښندل | بخشش |
| شندل | پاشيدن |
| شندل | سرګين |
| خندل | خنديدن |
| شنه | مؤنث شين = سبز |
| ښنه | پای، لنګ |
| شنه | امر مستمر از ريشۀ شنل |
| شنه | = شنی يك قسم دانه و مرض |
| ښی | )راست( |
| خی | در تلقين به کودکان تعبيری از چيز بد |
| شی | چيز |
| ښکارل | نمودن |
| شکارل | برغلانيدن |

| | |
|---|---|
| واښ | ریسمان |
| واخ | ادات اظهار الم |
| ښره | شوره |
| خره | انبو، خرمن |
| پرښه | سنگ خارا |
| پرخه | شبنم منجمد |
| ښور | لانهٔ مور و زنبور و مجموعهٔ چند خانه در یك قلعه که یك درب داشته باشد |
| شور | فغان |
| خور | خواهر |
| خور | مخفف خپور در یك لهجهٔ پښتو |
| اوخ | ادات تخویف |
| اوښ | اشتر |
| کښ | اسم صوت |
| کش | از ریشهٔ کشول |
| کخ | ادات تنفر برای اطفال |
| شادي | بوزینه |
| ښادي | سرور و اظهار مسرت |
| ښورول | حرکت دادن |
| شورول | بشور آوردن |
| خورول | پراگندن |
| پښ | آهنگر |
| پخ | اسم صوت |
| ښار | شهر |
| شار | لقب تاریخی |
| اغزی | خار |
| لښتی | جوی خورد |
| لختی | رقصنده |
| لاش | حیوان مرده |
| لاښ | پرتگاه درکوهسار |
| پېش | مشترك با پیش دری، مثل پېشېدل، پېش شدن |
| پېښ | واقع، واقعه مثل پر پېښ سوم |
| پیخ | لکه پیخ غاښونه یا پیخه خوله یا پیخ وهل اسم صوت |
| پوش | مشترك با دری، پوشیدن |
| پوښ | لباس نو عروس که بخانهٔ پدرش فرستند |
| پوخ | پخته صفت مذکر |

په دې ډول د دغو درو ږغونو تاریخي او اوسنی معنوي او لفظي اصالت له لوړو مثالونو څخه ښه ښکاري.

ځیني د پښتونخوا لیکوال دغسي کلمات سره ګډوي او په ژبه کي خلط او بې نظمي راولي، حتی کله عربي کلمات لکه خادم هم ښادم لیکي،یا مثلاً ګېډه، ږیږه او ګرم، ږرم یا خېټه، ښېټه کاږي.

زه ډېر تعجب کوم چي د خوګاڼي نوم خو په ارغسان او کندهار کي هم خوګانی ویل کیږي، داخ څنګه خوږیانی سو؟ د کندهار د سیمي خلك خو لکه د دې قبیلې څخه وي، ځانونه خوګاڼي بولي (د اول حرف په زور یا فتحه) نو هغه د ننګرهار خوګاڼي ورونه چي اصلاً د (ږ) مخرج نلري، دوی ولي خوږیاني لیکي؟ مګر د مهمندو خوګاخېل خو هیڅکله (خوږاخېل) نه وایي نه یې کاږي.

دلته باید دا خبره هم هېره نه سي چي د پښتو ځیني کلمات داسي دي چي په پسته لهجه کي هم په (خ) ویل کیږي لکه خور (خواهر)، خاڼې (موش کلان)، خندل (خندیدن) داسي نور کلمات باید حتماً په (خ) وکښل سي، چي د نورو سره التباس رانه سي.

ځیني کلمات بیا داسي دي چي هغه په پسته لهجه کي نسته، مګر موږ یې له ډېي لهجې څخه اخلو، هغه باید کټ مټ هغسي واخلو، چي په ننګرهار یا یوسفزو کي استعمالیږي. مثلاً : په کندهار کي خارو ته مینا وایي، که موږ دغه پښتو نوم اخلو، نو باید هغسي یې واخلو، چي زموږ د ننګرهار ورونه یې وایي، یعني خارو واخلو نه شارو یا ښارو.

همدغسي (خدای ګو) قسمیه په پسته لهجه کي نسته، نو که یې موږ اخلو، په (خدای ږو) یې بدلول مکتوب له ملفوظه لیري کول دي، چي ژبې ورانوي.[1]

[1] زیګری، په دوو وروستیو پیګڼیو کي د پشګتو د چاپي آثارو د بین المللي سیمنار ځانګړې ګڼه. ۱۳۵٦ ل.